# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| Historical | تاریخی |
|---|---|



قاسم باز


۳۱ جولای ۲۰۱۵

# د سترگو لیدلی یادداښتونه

## دریمه او اخیری برخه

د دولت رئیس محمد داوودخان زما نه پوښتنه وکړه « مجید جان، پلار دی د یوی میاشتی لپاره رخصت اخستی و ده خو تقریباً دوه میاشتی تیری کړی .» ورور می پلار ته وویل ، چی ما داوودخان ته وویل : چی هغه لږ خوابده شوی دی، ورور می وویل چی داوودخان ماته وویل په څه؟ بیا می ورور ورته ویلی و په هغه موضوع چی تاسی ورته ویلی وه چی که نور څوک غواړی چی ما ( محمد داوود) و گوری یا یی د وزارت داخلی یا د ارگ له لاری باید هغه خلک له ما سره وگوری. ورور می و ویل چی داوودخان ماته وویل ، چی ولی دی دا موضوع راته مخکښی نه ویله، ورور می ورته ویلی و چی ما فکر کاوه تاسی پر دی جریان خبر یاست.

ورور می زیاته کړه مخکښی له دی چی دفتر ته ورسیږو داوودخان راته وویل چی زه د هغه د خفگان چاره کوم. زما وروره زیاته کړه د پنجشنبی ورځ ځلور بجی وی زه طبق معمول د محمدداوودخان د کور د انتظار په خونه کی د ضیاء مجید د گارد قومندان، عبدالحمید محتاط د مخابراتو وزیر، غوث الدین فایق د فواید عامی وزیر سره ناست وم چی د دولت د رئیس دوه زامن هریو خالد داوود او ویس داوود ، د دولت د رئیس ښاغلی محمد داوودخان د کوره راووتل او د انتظار خونی ته پر ماپسی راغلل، هغوی روسته د روغبړ نه زما نه خواهش وکړو چی بیرون راشه ، ورور می زیاته کړه ، زه هم دهغوی سره د انتظار د اوطاق نه ووتم کله چی بیرون شو، نو دوی راته وویل. [ چی بابا ( محمد داوودخان) مونږ ته وویل چی خانصاحب له ما څخه خوا بدی شوی دی تاسی ورپسی ور شی هغه را پخلا کړی او د ځان سره یی راولی ، همدارنگه زما له طرفه ورته ووایی : تا چی د کوم شخص د خوشی کیدو خواهش کړی و ما تصمیم نیولی چی هغه شخص خوشی کړم.] عبدالمجید باز زیاتوی ، ما د خالد او ویس سره وعده کینوده چی سبا د جمعی په ورځ د اتو ۸ بجو شاه او خوا کی به د رئیس صاحب دولت له کور نه د خوگیانو په لور(طرف ) حرکت و کړو. هغوی له ما سره مخښه ( خدای پامانی) وکړه، ورور می وایی چی کله بیرته د انتظار خونی ( اوطاق) ته ننوتلم ښاغلی عبدالحمید محتاط چی زما نژدی دوست وه رانه وپو ښتل چی مجید جانه کومه مهمه خبر وه ، ما ورته وویل چی نه کومه زیاته مهمه موضوع نه وه هغوی غواړی چی سبا زما د پلار د لیدو لپاره ننگرهار خوگیانو ته لاړ شی.

ورور می وایی کله چی ما دا موضوع محتاط ته وویله محتاط ماته وویل چی زه هم تاسی سره ځم په دی وخت کی غوث الدین فایق ، پاچاگل وفادار، او ضیاء مجید هم وویل چی مونږ هم تاسی سره ځو. مونږ په خبرو کی و چی فیض محمد داخله وزیر تلیفون را وکړو د چا سره غږیده کله چی هغه د دوستانو له تصمیم خبر شو هغه هم وویل، چی زه

هم در سره ځم . وعده مو ۸ بجی د غوث الدین فایق کور په مکرویانو کی و ټاکه چی سبا به له هغه ځایه یو ځای خوګیانو ته ځو. وروړمی وویل کله چی سهار په مکرویان کی سره یو ځای شو یو نفر بل چی د پاچاګل وفادار نژدی ملګری و او نوم یی محمد اسلم وطنجار وه هغه هم زمونږ سره په ډله کی زیات شو، حرکت مو وکړو یولس نیمی بجی وی د خوګیانو ولسوالی مرکز چی کجه نومیږی او هلته د جمعی په ورځ په زرها و خلک بازار ته راځی او ده یوی میاشتی یا هفتی د ضرورت وړ شیان لکه خوراکی موادو( سودا) خریداری کوی د خوګیانو والسوال په ډیر منظم ډول خلک د سرک یوی او بلی خوا ته دره ولی وه .

خلکو دولتی لوړ پوړی مهمانان په چکچکو بدرګه کړه ، کله چی میلمانه د خلکو منځ ته ورسیدل د خپلو موترو څخه راکښته شول د عامو خلکو او د ولسوالی د مأمورینو سره یی روغبړ وکړو او بیا دوی د هغه ځای د خوګیانو د ولسوال په کډون زمونږ کور ته راغلل ، پلار می مخکښی د مخه د خوګیانو د قوم ډیر زیات مخور ملکان او سپین ګیری د دوی د هر کلی لپاره هم رابللی وه. دوی تر پنځو بجو پوری زما د پلاره سره پاتي شول بیا خالد داوود او ویس داوود د دولت د رئیس زامنو په خصوصی ډول زما د پلاره نه خواهش و کړو او د دولت د رئیس محمد داوودخان پیغام یی زما پلار ته ورساوه.

پلار می هم د هغوی سره وعده وکړه چی هفته وروسته کابل ته درځم ، خالد او ویس په ډیری خوشخالی زما د ورور عبالمجید باز او راغلو میلمنو ملګرو سره یو ځای بیرته د کابل په لور روان شول. « ښاغلی عبدالحمید محتاط خوګیانو ته د دی تګ جریان په خپل کتاب کی هم لیکلی دی.»

کله چی ښاغلی محمد موسی شفیق په صدارت کی تر نظارت لاندی و، په لومړی شپو ورخو کی به د پیر سیداحمد ګیلانی له کوره ورته ډوډی راوړل کیده خو کله چی محمدداوودخان ددی موضوع څخه خبر شو هغه امر و کړو چی نوره د پیر سیداحمد ګیلانی له کوره د ډوډی راوړل محمد موسی شفیق ته بند کړل، په دی خاطر چی داوودخان ویلی وه که کوم څوک د ګیلانی د کور تر صدارت پوری په دی فاصله کی کوم شی د محمدموسی شفیق په ډوډی کی واچوی او سبا هغه ته کوم مشکل پیدا شی په داسی حالت کی هم بدنامی مونږ او هم ګیلانی ته کیږی، داوودخان امر کړی و. چی د محمد موسی شفیق ډوډی دی د هوتلونو د ریاست خیبر رستورانت او کابل هوتل څخه اجراء شی. په همدی خاطر د ښاغلی محمد موسی شفیق ډوډی د خیبر رستورانت څخه اجراء کیده.

د وعدی سره سم پلار می هم یوه هفته وروسته کابل ته راغی دوی شپی تیری کړی کله چی داوودخان زما د پلار له راتګه کابل ته خبر شو، د چارشنبی په شپه ۷ بجی وی چی ورور می عبدالمجید باز د جمهوری ریاست سریاور کور ته تلیفون وکړو او خپل پلار ته یی وویل چی ما خپل موتر درولیږه ۸ بجی سردارصاحب در ته منتظر دی غواړی چی تاسی وګوری.، پلار می هم بیدون د ځنده لباس یعنی دریشی په ځان کړه په ټاکلی وخت د دولت د رئیس محمد داوودخان کور ته ورغی.

پلار می راته وویل چی دا لومړی ځل و چی زما او د داوودخان پرمنځ کی داسی موضوع پیدا شوی وه ، پلار می وویل چی وروسته د ګیلو او ګذارو نه محمد داوودخان ماته وویل چی څه ورشه ستا دوست می د نظارت د بند نه خلاص کړی منتظر تا ته وم چی ته یی کور ته ورسوی.

پلار می وویل چی ما ورته وویل کوم دوست می یادوی؟ . هغه ( محمد داوودخان) راته وویل چی محمد موسی شفیق یادوم. پلار می زیاته کړه چی داوودخان ماته وویل چی ما هدایت ورکړی کوم دولتی موتر درسره واخله هغه ( محمد موسی شفیق) خپل کور ته چی په قرغه کی دی ورسوه. پلار می وویل چی د ډیری خوشحالی څخه په جامو کی نه ځای کیږدم کله چی د داوودخان د کوره را ووتم بیرون صاحب جان د ګارد معاون ولاړ و، هغه ته می وویل چی موتر لری هغه راته وویل چی بلی ما ورته وویل چی راځه یو مهم کار لرم ته راسره اوسه ، دواړه په موتر کی

کبنیناستو صدارت هغه مانی ته لاړو کوم کی چی محمد موسی شفیق د نظارت لاندی وه، پلار می وایی چی تر دی ځایه صاحب جان د جمهوری ګارد معاون لا په جریان پوه نه وه ، کله چی مونږ هلته ، کوم ځای کی چی محمد موسی شفیق تر نظارت لاندی ورسیدو ما ( صاحب جان) ته وویل چی ته دلته اوسه زه محمد موسی شفیق ته د داوود خان پیغام رساوم. پلار می زیاته کړه زه یواځی ورننوتم ، کله چی د محمد موسی شفیق سترګی پر ما ولږیدلی له ځایه را پورته شو مونږ دواړو روغبړ سره وکړو ما ښاغلی محمد موسی شفیق ته وویل چی د خبرو وخت نشته کالی دی را واخله تاسی د دولت د رئیس او صدراعظم محمد داوودخان په امر د بند یا نظارت نه خلاص شوی یاست ، ما ته شخصآ محمد داوودخان امر وکړو چی تاسی خپل کور قرغی ته ورسوم، او زه هم په دی خاطر په تا پسی راغلی یم، پلار می زیاته کړه چی په ریښتیا د محمد موسی شفیق په شونډ کی تبسم د لری و بریښیده ، د صدارت څخه راووتو.
زه او محمد موسی شفیق د موتر په شا ( عقبی ) سیت کی کبنیناستو صاحب جان د جمهوری ګارد معاون او دریور مخکښی ناست وه خو کله چی موتر د صدارت د څلور لاری (چاراهی) ته ورسید ما دریور ته وویل چی ښی لاس ته تاو شه، دریور هم موتر راتاو کی پدی وخت کی ما محمد موسی شفیق ته وویل مخکښی له دی چی تا د قرغی کور ته ورسوم لازمه بولم تا د یوه نژدی او مهربان دوست کور ته بوځم ، فاصله دومره زیاته نه وه شفیق را ته وویل ، چی پوښتنه کولای شم کوم دوست کره، پدی وخت کی موتر د پیر سیداحمد ګیلانی کورته ورسید ما بیا دریور ته ور غږ کړو، بچیه چپ لاسته په دی کوڅه کی داخل شه موتر هم داخل شو کله چی موسی شفیق د پیر کوڅه و لیده ډیر خوشحاله شو.
موتر مو د پیر سید احمد ګیلانی دکور په انګړ کی و دراوه ، کله چی د ګیلانی نوکرانو مونږ و لیدو په منډو شول او ګیلانی ته یی خبر ور کړه چی خانصاحب د محمد موسی شفیق سره یوځای راغلل ، پیر ګیلانی هم په ډیر بیړه د کور عمومی دروازی ته ځان راورساوه روغبړ مو سره وکړو، ما پیر ګیلانی ته وویل مخکښی له دی چی ما دی ( موسی شفیق) قرغی ته رسولی وای لازمه می وباله چی اول یی تاسو کور ته راولم ځکه چی تاسی دده په خلاص کیدو کی زیاته کوشش او علاقه درلوده ، پلار می وویل چی د یوه مختصر چای خوړو وروسته می محمد موسی شفیق د داوودخان د امر په اساس قرغی دده کورته ورساوه ، د خدای پامانی پر موقع (وخت) محمد موسی شفیق را ته وویل چی خانصاحب ما د خپل قدرت پر وخت کی تا سره هیڅ نه دی کړی خو که ورځ یی راغله زه به د ستا دا احسان ادا کړم . خدای پامانی مو سره وکړه ، ما (بازمحمدخان) دده د رسولو اطمینان د تلیفون له لاری د خپل ځوی عبدالمجید باز په لاس داوودخان ته ورساوه .
محمد موسی شفیق وروسته د خوشی کیدو د هر اختر د مبارکی لپاره به د محمد داوودخان کور ته راتلو.
کال۱۳۵۶ د کوچنی اختر ورځ وه زه قاسم باز او زما مشر ورور شهید محمد حسن باز چی په هغه وخت کی د کابل د چهاردهی د ولسوالی ولسوال وه د کابل د ولایت امینه قومندان مرحوم شهید میرګل، د هغه وخت د مالیی د وزارت د ګمرکاتو لوی رئیس حمیدالله او مالیی د وزارت اداری رئیس عبدالتواب یوځای د اختر مبارکی لپاره د محمد داوودخان کور ته ورغلو، خلک بیدون د تلاشی څخه د یوه کوچنی انتظار نه روسته، هغه هم چی اوطاق صالون د ملاقات ډیر وړوکی یا کوچنی وه. د مبارکی لپاره د محمد داوودخان کورته یوځای لاړو، کله چی زمونږ نوبت وروسته د څو محدود دقیقو راورسید د انتظار د اطاق نه هغه اوطاق ته چی داوودخان پکښی ناست و د اطاق بیرون یو لوی دهلیز و ومی لیدل هلته یو میز او څلور چوکی ایښودل شوی چی زما پلار بازمحمد خان، د جمهور رئیس د دفتر رئیس محمد اکبر او د جمهوری ګارد قومندان صاحب جان ناست دی ددوی سره داختر مبارکی نه روسته صاحب جان د ګارد قومندان هغه اوطاق ته چی داوودخان د څو نفرو سره ناست و. په دی اوطاق کی یو، یو نفری کوچ چی چرمی او سپین رنګه دی او ددی په څنګ کی یو دوه نفره سپین رنګه چرمی کوچ دی نور شپږه اوه چوبی

د ناخوری چوکی ایښې دی وروسته د روغبړ او اختر مبارک مونږ په چوبی چوکیو کی کښیناستو متوجه شوم چې زما ورور عبدالمجید باز دده سریاور د داوودخان تر شاه ولاړ او یوه چوکی یې د خپل ځان لپاره ایښې ده کله چې مونږ ټول په خپلو ځایو کی کښناستو د داوودخان پر څنګ کی محمد موسی شفیق او د محمد موسی شفیق په څنګ کی داکترمحمد یوسف خان دواړه سابقه صدراعظمان ناست دی.

پردی وخت کی موظف شخص چې نوم یې درویش او د وردګو د ولایت دی د داوودخان په کور کی کار کوی په ډیرو وړو پیالو کی شین چاې د دوو دانو سپین قند سر راوړو، چاې ډیر ګرم وه ومی لیدل چې داوودخان د موسی شفیق سره نسبت د یوسف خان نه زیاد غږیږی. مونږ تقریباً د چاې د خلاصولو په حالت کی وه چې دوه نفره راننوتل اولین نفر میانه قد چې د عمر زیاتی شپې او ورځی یې تیری کړی وی او لږ شان سپین ګیری معلومیده کله چې دی اوطاق ته داخل شو او د داوودخان سترګی پری و لړیدلی داوودخان یودم د خایه پورته شو ځو قدمه مخکی ورغی او ددی شخص لاس یې ونیوه، دواړو تقریباً دوه دقیقی د یوبل لاسونه نیولی وه او روغبړ یې کاوه ، په دی وخت کی محمد موسی شفیق او داکتریوسف خان هم په خپل ځای کی ولاړ وه ، ما چې ولیدل چې بله خالی چوکی نشته هغه چوکی چې زه پری د داوودخان تر شاه ناست وم هغه می د داوئدخان ښی لاس خوا ته کیښوده چې دا سپین ګیری پکښی کښینی په دی حالت کی داوودخان زما نه تشکری وکړه نور مونږ چاې خلاص کړی و اجازه موتری واخسته ، ځکه چې بیرون نور خلک په انتظار کی وه، کله چې بیرون را ووتو. ټولو ته دا سؤال پیدا شو چې دا دوه صدراعظمان څنګه ډیر هلته ناست دی او داسپین ګیری څوک وه ، په دی وخت کی می پلار بازمحمدخان د حویلی په منځ کی ولاړ وه مشر ورور می تری و پوښتل چې محمد موسی شفیق او داکتر یوسف خان د ډیره وخته هلته ورسره ناست دی او دابل سپین ګیری څوک وه چې داوودخان ورسره ډیره اوږده روغبړ( سلام علیکی) وکړه ، پلار می وویل چې شاید دواړه صدراعظمان د داوودخان سره د غرمی ډوډی وخوری او هم یې زیاده کړه چې دا سپین ګیری هغه شخص دی چې په خوګیانو کی کله د سقاو قواو غوښتل چې سردارهاشم خان ونیسی ده شخص او محمد ګل خان مومند مونږه تر سیاه کوه پوری ورسولو، داشخص غلام رسول خان پاچا صاحب دی چې بیا وروسته د پروان حاکم اعلی شو دا هغه کس دی چې داوودخان ورته کاکا وایی.

ما د خپل ورور له خولی څو ځلی د ۱۳۵۶ کال په اخیرو کی اوریده ، ځنی پنجشنبی ورځی چې داوودخان په خپل کور کی وی او دفتر ته نه ځی، داوودخان د خپل کور فامیلی موتر په محمد موسی شفیق پسی لیږی، هغه ( موسی شفیق) او داوودخان سره غرمه تیره وی دواړه دوه پر دوه سره ناست وی.د افغانستان او جهان په وضعه سره خبری کوی. د ۱۳۵۶ کال اخیری شپې ورځی وی چې ورور می د پلار نه و غوښتل که ته جمهور رئیس ته ووایی چې زه خپل تحصیلات تکمیل کړم او خپله ارکان حربی واخلم زما په عوض زما بل ورور چې عبدالولی نومیږی او د بالاحصار په غنډ کی د کوماندو او پراشتو صاحب منصب دی زما په عوض د ځان سره ونیسی ، پلار می دا موضوع د داوودخان سره شریکه( یاده ) کړی وه هغه ورته په ځواب کی ویلی و چې دا کار به در ته و کړم هغه به امریکا ته د نظامی اتیشی په صفت در ته ولیږم چې هم تحصل وکړی او هم کار، او دا بل ځوی به دی د ځان سره ونیسم. خو لږ صبر راته وکړه په اتم ۸ د جوزا یو رسمی سفر واشنګتن امریکا ته لرم کله چې د هغی سفر نه بیرته راغلم زه هم ستړی شوی یم.

د کار بوج ( اندازه) را باندی زیاته ده کابینه تبدیل کوم یو نفر چې اقلا نیم کار زما د اوږو څخه هم کم کړی (نوی) راولم، زه ددی کابینی سره ډیر په تنګ شوی یم، نو کله چې می پلار دا خبری ورور عبدالمجید باز ته کړی، ورور می پلارته وویل چې پلاره، دا شخص چې هغه ( محمد داوودخان) تاسی ته وویل دا نوی شخص محمد موسی شفیق دی بل څوک نه دی.

د ثور د ۷ نیټی ۱۳۵۷ د کودتا نه دری ورځی مخکښی هغه وخت چی ما په وزارت عدلیه کی کار کاوه سهارد کار خوا ته( طرف ته) تلم، چی پلار می را ته وویل چی ، ځویه ټول مکتبونو فاکولتو او کارو ته لاړ دی څوک کور کی نشته نن لس بجی پیر صاحب سید احمد گیلانی کور ته راځی ته یی د چای غم و خوره ، هر کله چی هغه بیرته لاړه ته دی بیا دفتر ته لاړ شه ، پدی وخت کی زمونږ کور په کارته سه کی وه، هماغه و چی لس بجی پیرصاحب بیدون د کوم دریور څخه زمونږ کور ته راغی، د چای غم می پخوا خوړلی و، کله چی دوی سره کښیناستل پیر صاحب زما پلار ته یی وویل چی ما ته بیرون وضعه خرابه برییښی، کمونستان ډیر فعال شوی دی خدای ناخواسته چی کوم حرکت ونکړی. پلار می ورته و ویل چی ولی ته پخپله دا خبر محمد داوودخان ته نه کوی ، پلار می پیر صاحب ته وویل چی د جمعی په ورځ به زه ستاسو پیغام ورته ورسوم چی هر څومره ژر کولای شی تاسی سره و گوری، ولی د بده بخته هغه جمعه راغله نه داوودخان پاتی شو، نه پیر گیلانی هغه ولید او نه بازمحمدخان هغه پیغام ورکړای شو..

## ریښتیا وایی چی تقدیر ته تدبیر نشته

کله چی د ثورد ۷ می نیټی دغوایی غوبل ( کودتا ) کامیاب شوه پلار می د پنځو اولادو هر یو محمدحسن باز، ملک سرفرازخان باز، عبدالمجید باز، عبدالولی باز او زه قاسم باز ټول بندیان شو، په دی وخت کی مونږ ټول سیاسی بندیان شو، به دی وخت کی د پلچرخی په زندان کی تقریباً اویا (۷۰) نفره مردانه او تقریباً د( ۳۵ ) نفرو په شا او خوا کی د سلطنتی او داوودخان د گورنی فامیل ښځی او کوچنیان بندیان و، د ثور د میاشتی ۲۴/۲۵ شپه وه مونږ په


د افغانستان جمهوری دولت
محمد داود
جمهور رئیس

جلالتمآب رئیس جمهور ،

نامه دوستانه تاریخی ۱۵ مارچ ۱۹۷۸ آنجلالتمآب عزیز را دریافتم . از علاقمندی که نسبت به مسافرتهای اخیر من بیکعده کشورهای دوست ابراز داشته اید تشکر میکنم .
واقعاً تحکیم و ثبات صلح در منطقه ، در آسیا و جهان و گسترش علایق دوستانه و توسعه همکاریهای مثبت و مفید با کشورهای دیگر با درنظر داشت احترام به استقلال و حاکمیت ملی و اصل برابری دول ، مطابق به اصول عدم انسلاک از اهداف مهم و اساسی سیاست خارجی دولت جمهوری افغانستان میباشد .
من به این عقیده ام که تماس مستقیم بین زعمای کشورها و فراهم شدن زمینه مذاکرات بالمواجه بین آنها روش موثر و مفیدی برای گسترش تفاهم و همکاری بهتر بین ملل مختلف جهان است .
جلالتمآب عزیز ،
من متقابلاً بشما اطمینان میدهم که تقویه علایق صمیمی موجوده و توسعه همکاریهای دوستانه که خوشبختانه از دیرزمانی باینسو طور مطلوبی بین کشورهای ما موجود است مورد آرزومندی عمیق من نیز میباشد . عقیده دارم که تقویه و انکشاف بیشتر این علایق دوستی و همکاری بین دولت جمهوری افغانستان و ایالات متحده امریکا مطابق به آرزومندی و منافع مردمان کشورهای ما بوده و عامل مفید دیگری در توسعه تفاهم و همکاری بین المللی بشمار آمده نیز میتواند .
از اینکه نسبت مصروفیت های زیاد آنجلالتمآب در داخل کشور ، مسافرت من به ایالات متحده امریکا به آینده بعدتری به تعویق میافتد ، برای من قابل درک و تفاهم کامل است .
من با جلالتمآب شما هم عقیده میباشم که این مسافرت دوستانه در فرصت دیگری که برای طرفین مساعد باشد صورت بگیرد . البته وقت آن با اساس موافقه هردو جانب از مجرای دیپلوماتیک تعیین خواهد شد .
مسرور خواهم بود تا در آن فرصت مسرت ملاقات و شناسائی نزدیک با آنجلالتمآب عزیز برایم حاصل و یک بار دیگر بازدید از کشور بزرگ و زیبای ایالات متحده امریکا برایم میسر گردد .
در حالیکه موفقیت همیشگی جلالتمآب شما را در وظایف بزرگ و دشواری که در پیش دارید تمنا میکنم ، رفاه و سعادت روزافزون مردمان ایالات متحده امریکا را تحت زعامت مدبرانهٔ شما آرزومندم .

قصر ریاست جمهوری ـ کابل
مورخه : ۲۸ ، ۱ ، ۱۳۵۷

جلالتمآب جیمی کارتر
رئیس جمهور ایالات متحده امریکا ـ واشنگتن


دراندہ خوب ویده و چی یو ناڅاپه د اوطاقو او دهلیز چراغونه روشن شول، د څو دقیقو وروسته هغه اوطاق چی زه او پلار او یو ورور می، اوهم د غلام حیدرخان رسولی مشر ځوی عمرجان رسولی پکښی و، عمرجان رسولی چی په دی وخت کی د ننگرهار د خوگیانو په تعلیمی غنډ کی سرباز عسکر وه یوځای و. د اوطاق دروازه په ډیر شدت را خلاصه شو گورو چی جنرال عبدالقادر چی په دی وخت کی د دفاع وزیر دی دشیرجان مزدوریار سره دواړه یو ځای

اوطاق ته راننوتل، کله چی د عبدالقادر سترگی په عمرجان رسولی و لړیدی جنرال عبدالقادر، عمر رسولی ته وویل چی ته لاتر اوسه ژوندی یی؟ خدای شاهد دی چی هغه بیچاره ورته هیڅ ونه ویل. په دی وخت کی می پلار قادر وزیر دفاع ته وویل چی زمونږ گناه څه ده ، چی دلته مو اچولی یو. جنرال عبدالقادر می پلار ته وویل. چی ته نه پوهیږی چی ستا گناه څه ده؟ تا د محمد موسی شفیق په خلاصیدو کی لوی رول لوبولی دی، فقط هم دومره یی وویل له اوطاق نه ووت، دا آوازه سبا په ټول محبس کی خپره شوه چی قادر بازمحمدخان ته داسی وویل. زمونږ د اوطاق په څنگ کی محمد انور واحدی، یو د پولسو افسر او دوه د هوایی قواو پیلوتان چی یو گل پاچا جاجی د مرحوم ظاهرشاه او سردار داوودخان د هیلکپتر پیلوت و بندیان وه. جنرال عبدالقادر د هغوی سره یی هم سپکی سپوری وکړی، د هغوی پر څنگ اوطاق کی محترم کریم عطایی د مخابراتو وزیر، پوهاند عبدالله عمر د صحیی وزیر، محترم داکتر عبدالمجیدخان د دولت وزیر او غوث الدین فایق د فوایدعامی وزیر بندیان وه دی بی شعوراو وطن فروشه انسان (عبدالقادر) ټول بندیان په یو شکل نه بل شکل تهدید کړه، هماغه و چی دوه شپی وروسته یعنی د ثور په ۲۷ نیټه سید داوود تړون، اسدالله سروری، او یو تعداد نورچی نه غواړم نومونه یی واخلم راغلل زما پلار او دری ورونه، او د جمهوری ریاست ددفتر رئیس محمد اکبر، د پکتیا والی محمد گل ابراهیم خیل، سمونیار نصرالله عمرخیل یی له ځانه سره بوړل او په شهادت یی ورسول. دا د پلچرخی د زندان اولین گروپ بندیان یا محبوسین وه چی دی ظالمانو په شهادت ورساول.

الله پاک دی په خپل دربار کی د دوی شهادت قبول کړی. همدارنگه الله پاک دی د هر یو شهید محمد داوودخان او شهید محمد موسی شفیق اروح ښاد ولری.

نوټ:

گرانو دوستانو، دا د هغه او دغه نقل قول نه دی ، پیر سید احمد گیلانی ، حامد گیلانی ، ژوندی دی نه پوهیږم چی هارون شفیق ژوندی دی او کنه، سید اسحاق گیلانی او عمرجان رسولی ټول ژوند دی احیاناً که څوک غواړی زما ددی ادعا په مورد کی شک او شبهه ولری کولای شی ددی ذواتو څخه معلومات تر لاسه کړی.

زړور انسانان فرصتونه ایجاد وی خو ډارن کسان د فرصتونو په تمه ناست وی.

د هغه خلکو کمی نشته چی په هیواد ویاړی، کمی د هغه خلکو دی چی هیواد پری ویاړی.

پای

۱۵/۳۰/۷